مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۷/۱۵

# زه او ته!

زه او ته دواړه سودا کړ يو، خرڅوو مالونه
چې خرڅوو يې څنګه، هسې تولوو مالونه

توپير مو دادی چې، ته سم يې اوزه کوږ روان
هـر يـو په خپـله لاره ځـو، اوبه کـوو مالونه

دواړه پوهيږو چې، زه دروغ او ته رښتيا وايې
خو په دې ژبه څنګه سپک، او د درنوو مالونه؟

ساده ګان تول په ما راتول، کوی ستاينه زما
وايې په تول بازار کې ستا، مونږ خوښوو مالونه

په زړو تنو کې کوم تن، هوښيار که تاله درشي
نورو ته مونږ، په دې بازار کې ورکوو مالونه

پام کـوه ماسـره سيالی مکـړه، توان نه لرې
مونږ زورور تولي نړی ته، رســوو ما لونه

په دې دروغجن جهان کې، قدرد رښتياو نشته
ګوره چې څنګه ، هرې خوا ته ليږدوو مالونه

لاس په نامـه راته ولاړ دې ، کليـوال د کلي
ورته له جسـتو، د طـلاوو جـوړوو مالونه.

جولای/۲۰۱۹/۱۱
ايجکس ـ تورنتو ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ